مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۳/۳۱

غزل

پښتون په اور کښې سوځولی چا دی؟
په دین، مذهب بیا غولولی چا دی؟

چا یې مکتب چا مدرسه ړنګه کړه؟
په ناپوهۍ کښې رنګولی چا دی؟

چا په څپو د ناپوهۍ لاهو کړ؟
او له علمیته ګرځولی چا دی؟

نه د جومات نه د مندر ښکارېږي
تش په جنګونو شرمولی چا دی؟

لاس یې ککړ د پښتنو په وینو
په سپینو حورو هڅولی چا دی؟

دلته رښتینی پسرلی نه راځي
له خپلې خاورې نه شړلی چا دی؟

مصطفی پسرلی
30/03/2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ